**بسم الله الرحمن الرحيم**

## روژه يو ډال دی

**(ژباړه)**

ابي هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«الصيام جنة، فلا يرفث ولا يجهل، وإن امرؤ قاتله او شتمه فليقل إنی صائم. مرتين، والذی نفسی بيده لخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسک، يترک طعامه وشرابه وشهوته من اجلی، الصيام لی، وأنا اجزی به، والحسنة بعشر امثالها.» (سنن بن ماجه)**

*ژباړه: روژه ډال دی، کله چې په تاسو کې څوک بدې ردې ونه وايي، له چا سره شخړه ونه کړي او که څوک نېکنځلې ورته وکړي او يا جګړه ورسره وکړي، دوه ځله دې ورته ووايي: زما روژه ده. قسم مې دې پر هغه ذات وي، چې زما محمد روح د هغه په لاس کې دی، د روژه‌نيوونکي د خولې بوی د الله (سبحانه وتعالی) په نزد د مشکو تر بوی غوره دی. (الله فرمايي) روژه‌نيوونکی زما په خاطر خوراک، څښاک او شهوت پرېږدي. روژه زما لپاره ده او زه يې بشپړ ثواب ورکوم او د هر نېک عمل په بدل کې يې لس نېکۍ ورکول کېږي.*

دغه حديث موږ ته د هغو عملونو لارښوونه کوي، چې د رمضان پرمهال چې د الله سبحانه وتعالی په نزد ارزښتمنه او مبارکه مياشت ده، د هغو په اړه فکر وکړو او په ترسره کولو کې يې حريص وو. همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته ويلي، چې روژه يو ډال دی او د قيامت په ورځ زموږ لپاره ساتونکی او حجت دی. موږ ته امر شوی چې په روژه کې بايد بدې خبرې او جګړې ونه کړو؛ يعنې موږ بايد داسې خبره او کار ترسره نه کړو چې په هغه کې ګناه او د الله سبحانه وتعالی چې پر موږ يې روژه فرض کړې، مخالفت وي؛ مګر دا چې په قصدي توګه د ګناه مرتکب شو. د الله سبحانه وتعالی له امر سره سم بايد د روژې د نيولو هڅه وکړو او دې ته بايد ونه ګورو چې زموږ له ميل سره سمه ده او که نه. همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته نورې لارښوونې هم کړې او پر موږ لازمه ده چې د رمضان په دې مبارکه مياشت کې له هغو څخه پيروي وکړو؛ هغه دا دي چې که چېرې يو چا غوښتل چې له موږ سره جګړه وکړي او يا په خپل ناوړه چلند سره موږ غوسه کړي، نو هغه ته بايد داسې ځواب ورکړو چې موږ له ګناه څخه وژغوري، ترڅو زموږ روژه په بدو خبرو او جګړې سره زيانمنه نه شي. هغه ځواب دا دی چې ووايې "زما روژه ده" د دې معنا دا ده چې زه د هغه لوی عمل د ترسره کولو په حال کې يم، چې ما خپل رب ته نږدې کوي او زه په دې وخت کې خپل نفس خوراک، څښاک او ګناه ته نه پرېږدم. له موږ څخه غوښتل شوي چې دغه جمله دوه ځله تکرار کړو، ترڅو ټينګار څرګند کړي چې موږ دغه عمل يوازې د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره ترسره کوو او په دې توګه د ظالم کس لاس درڅخه لنډ شي.

دغه حديث شريف هغه عمل ته اشاره کوي، چې روژه‌نيوونکي يې احساسوي او تل ورڅخه شکايت کوي؛ هغه د روژې پرمهال د خولې بوی دی. له همدې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته ويلي، چې دغه بوی که څه هم سړي ته ازار ورکوي، مګر د الله سبحانه وتعالی په نزد د مشکو تر بوی غوره دی. دغه حديث موږ هڅوي،

چې صبر وکړو او له شکایت څخه لاس واخلو؛ ځکه د یوه مسلمان لپاره اصل دا دی، چې هغه څه خوښ کړي چې الله سبحانه وتعالی یې خوښوي او هغه شی بد وګڼي، چې د الله سبحانه وتعالی نه خوښیږي. د الله سبحانه وتعالی د محبت لپاره باید له دغه بوی څخه شکایت ونه کړي، چې په دې کې هم لوی اجر او ثواب دی.

دغه حدیث موږ ته بیانوي چې انسان په غذا او اوبو سره ژوندی دی او دغه دواړه په دنیا کې د انسانانو لپاره فتنه دي. الله سبحانه وتعالی په هغې عاجزۍ او قربانۍ چې روژه‌نیوونکی یې کوي، پوهیږي او له نیتونو څخه خبر دی چې ایا روژه یې الله سبحانه وتعالی ته د نږدېوالي لپاره نیولې او که نه. ټول هغه عملونه چې مسلمانان یې ترسره کوي، باید یوازې د الله سبحانه وتعالی لپاره وي؛ مګر دا چې روژې له یو و بل سره توپیر لري، یعنې هر کس له خپلې هڅې سره سم ثواب اخلي او الله سبحانه وتعالی هر چا ته د هغه د زحمت او هڅې په اندازه بدله ورکوي. دا چې ستاسو نېک عملونه لس چنده ډېرېږي، دا نو پر خپلو نېکو بنده‌ګانو د الله سبحانه وتعالی مهرباني ده.

اې ربه! موږ ستا د دغه رحمت وړ وګڼه او زموږ ټول عملونه پخپل دربار کې قبول کړه! زموږ روژه او قیام قبول کړه او د قیامت په ورځ موږ ته تر ټولو غوره ثواب راکړه! اللهم آمین!

**لیکوال : ماهر صالح**